واحد فقیری هاری
۲۰۰۹/۰۱/۱۸م

# یوازې ښه او سالم حکومت افغانستان ژغورلای سي

د واشنګټن پوسټ ویب پاڼې د جنورې پر ۱۷، د ناټو اتحاد سرمنشي، یاپ دي هوپ شیفر، هغه تحلیلي مضمون خپور کړی دی چې د جنوري پر ۱۸ به خپور سي. ښاغلی شیفر د ځینو غربي او بعضي نورو سطحي او غرضي افغاني چاروالکو په شان لمړی په افغانستان کې د ځینو واهي او خیالي پرمختګونو په باب پرتې وایي، او بیا کله سم او کله ناسم مفکورې وړاندي کوي. هغه لیکي: د طالبانو د رانسکوریدو را وروسته، ازاد انتخابات ترسره سول؛ افغاني ښځې ازادي سوې؛ او په تعلیم او صحت کې هم د پام وړ پرمختګونه سویدي. ښاغلی شیفر ته باید ور په یاد سي چې پخواني انتخابات جعلي او تحمیلي وه، او د افغاني مېرمنو حقه حقوق هم د بین المللي ټولني په ملاتړ ډانګیانو غصب او تلف کړي دي. د تعلیم او صحت په اړه هم د ښاغلي شیفر څرګندوني چټییات دي.

خو ښاغلی شیفر سمدستي خپلې مخکنۍ څرګندوني ردوي او لیکي: "مګر د افغانستان د حالاتو رشتین تحلیل دا هم ښیي چې موږ خپل هدف ته نه یو رسېدلي." هغه ادامه ورکوي او لیکي: که څه هم د هېواد په شمال او غرب کې تر ډېره حده پوري ثبات او سوله قایمه ده، خو په جنوب او شرق کې بغاوت روان، حکومت غیر موثره، او مخدره مواد ډېر دی. افغانان په زیاتېدونکي توګه د اقتصادي انکشاف او بیاودانولو د پروسې په باب شکمن دي؛ دغه راز، اروپایان هم دې اردوه ماموریت ستړي کړیدي." یو ځل بیا باید ښاغلي شیفر ته وویل سي چې د هېواد په شمال او غرب کې د امریکا او ناټو په مرسته هغه مشهور جانیان حاکم دي چې حتی د سیمې ماشومان هم د هغوی له تېري او جنایت څخه مصون ندي.

ښاغلی شیفر وایي: " په افغانستان کې اساسي ستونزه د طالبانو ډېروالی ندی، بلکې د سالم او ښه حکومت نشته والی دی. افغانان یوه داسې حکومت ته اړتیا لري چې د هغوی غم وخوري. که چیري په افغانستان کې یو سم او سالم حکومت راسي، همدا د طالبانو لپاره زهر قاتل دی. د افغانستان حکومت باید پخپله د اداري فساد سره مبارزه وکړي." ګرده افغانان د ښاغلي شیفر ددغو څرګندونو سره موافق دي. افغانان قوي، پاک، او مسول حکومت غواړي، نه د امریکا او ناټو په مرسته د کابل اوسنی تحمیل سوی افغاني ضد حکومت.

ښاغلی شیفر لیکي: " ناټو هم باید یو منظم پلان ولري. ناټو افغانستان پر مختلفو برخو وېشلی دی. موږ باید یوه واحده ستراتیژي غوره کوو." باید زیاته سي چې اکثره افغانان د ښاغلي شیفر د همدې مفکورې پلوي کوي.

هغه ادامه ورکوي او لیکي: " د افغانستان ستونزې یوازې د هېواد په دننه کې نه سي حلېدلای. پاکستان لدې مشکلاتو سره اورګانیک رابطه لري. واقعیت دا دی چې د چم ګاونډ ګرده ملکونه په افغانستان کې ګټي لري. بین المللي ټولنه باید یو سیمه ایز پلان ولري. د افغانستان مشکل یوازې نظامي حل نلري. موږ مجبوره یو چې افغاني پولیس او پوځ تقویه کړو. " د ښاغلي شیفر همدا نظر سم او سل په سل کې د تایید وړ دی.

ښاغلی شیفر لیکي:" په غرب کې داسې انګېرل کېږي چې افغانان خارجي عسکر پخپله خاوره کې نه غواړي. حال دا چې د عامه افکارو سروې ښیي چې ۷۰ فیصده افغانان د ناټو د ماموریت پلوي کوي. کله چې زموږ عسکر په خطا کې ملکي کسان ووژني، ټوله نړی سمدستي په خبره سي. خو طالبان تر موږ پنځه چنده زیات ملکي کسان وژني. موږ باید نړیوالو ته دا وښیو چې طالبان اول لمبر قاتلان او د بشر د حقوقو متجاوزین دي." ښاغلي شیفر ته باید وویل سي چې افغانان د امریکا، ناټو، او طالبانو وژني او قتل عامونه په کلکه غندي.

بلخوا، د ګارډین په ورځپانه کې د برتانیې د لیبرال ډیموکرات ګوند پخوانی مشر، پډي اشداون، د جنوري په ۱٤ پخپله تحلیلي مقاله کې لیکي: "د کال ۲۰۰۳ د مې په میاشت کې، ښاغلي رمزفیلډ وویل: که چیري نن ورځ افغانستان او عراق ته سرې ځیر سي، هلته ثبات او سوله ټینګېږي. موږ په دواړو ملکونو کې نور مهم جنګونه نه لرو، بلکې د بیاودانولو په کارونو لګیا یو." ښاغلي اشداون ادامه ورکوي او وایي: خو نن سبا حالات کاملا بل ډول دي. امریکایي عالي رتبه مامورین په افغانستان کې د ماتې او بایللو خبري کوي. څه چې د امریکا حکومت له پامه غورځولي دي،


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

هغه دا چي سوله يوازي د جنگ نشته والی‌ته نه وايي، بلکي سوله، دغه راز، د اقتصادي او اجتماعي عدالت تامين ته هم اړتيا لري."

ښاغلي پدې اشداون ليکي: " د عدلت او انصاف په نشته والي کي، کرکه او بدي دايمي شکل غوره کوي. د قانون د حاکميت نه شته والی د بغاوت لپاره فرصت برابروي. داسي برېښي چي متحده ايالاتو او ملگرو يې خپل تاريخي درسونه هېر کړي دي. په اروپا، جاپان، باسنيا، اريتريا، او شرقي تيمور کي د عدالت تامين د ملتونو د جوړولو لپاره فرصت برابر کړ. مگر نن سبا امريکا په عراق او افغانستان کي د بغاوت د ختمولو لپاره همدا تاريخي درسونه بيخي هېر کړي دي، او د بغاوت حل په نظامي لارو چارو کي لټوي."

د ښاغلي اشداون همدا نظر کاملا درست او سالم دی. سوله پرته له عدالت څخه امکان لري. په افغانستان کي د متحده ايالاتو اساسي خطا پدې کي ده چي پرته له عدالت څخه ثبات او کراري غواړي. په بل عبارت، له يوې خوا، دکابل شډل حکومت تقويه کوي، له بلي خوا، د خلکو څخه اطاعت او همکاري غواړي! له يوې خوا، د بې گناه خلکو کورونه او کلي بمباروي، او له بلي خوا، ثبات او سوله غواړي. له يوې خوا، ټول پښتون قام د طالبانو او القاعدې په نامه ځپي، او له بلي خوا، د همدې قوم څو داړماران او غله تقويه کوي. له يوې خوا، د افغان ملت د مشهورو قاتلانو سره لاس په لاس گرځي، او بلي خو، د افغانانو څخه د ښه نيت او دوستي توقع لري!

ښاغلی اشداون ليکي: " امريکا غوښتل چي د سپتمبر له ټروريستي حملو را وروسته هر څه په يوازي سر وکي، خو د يوازي سر کارونه ټل ناکامه وي. متحده ايالاتو ته پکار ده چي بېرته د خپلو ملگرو سره سلا مشوره وکړي. يوازي د بين المللي همکارۍ په مټ کولای سو چي په افغانستان او عراق کي تېر غم لړلي اشتباهات تلافي کوو. ويل کېږي چي د ښاغلي اوباما لمړی اقدام به د گوانتانامو د محبس تړل وي."

د ښاغلي اشداون نظريات او ځرگندوني سل په سل کي د منلو وړ دي. ښاغلی اشداون هغه څه وايي چي افغانان يې ويل غواړي. افغان هيلمن دي چي د ښاغلي اوباما د راتگ سره سم به د افغانستان په متعلق د متحده ايالاتو په تباه کونکي پاليسی کي بنيادي مثبت بدلون راسي. افغان سوله، عدالت، ازادي، او ديموکراسي غواړي.

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de